# عبدالاکبر خان اکبر

# سیاسي او ادبي خدمات

ډاکټر فضل الرحیم مروت

په تاریخ کښې یوه خبره هاغه شان روانه ده چې "ایا وخت انسان تخلیق کوي یا انسان د وخت تخلیق کوي" او دا بحث به شاید دغه شان روان وي خو د عبدالاکبر خان اکبر صاحب په حقله سړے وئیلے شي چې هغه د خپل وخت سماجي، اقتصادي، کلتوري او سیاسي ماحول او چاپېرچل کښې وده وکړه او یو اوچت مقام ته ورسېدو.

د شلمې پېړۍ اولنو لسیزو کښې دنیا خپل رنګ بدلولو او ډېر بدلونونه پکښې راغلۀ او دا بدلونونه په یوه توګه یا په بله توګه د اولني نړیوال جنګ سره تړلي وو. په برطانوي هند کښې دا بدلونونه د انقلابي تحریکونو پان اسلام ازم، نېشنل ازم، لبرل ازم، مشروطیت (ائین غوښتنه)، جدیدت، اصلاحات او د ټولو نه لویه خبره سیاسي او ادبي احیاء په شکل کښې څرګنده شو. زمونږ صوبه کښې (چې په ۱۹۰۱ء کښې له پنجاب بیله شوه) د پښتنو سیاسي اړي ګړي، سماجي او سیاسي جوړښت، قبائلي، کلي وال (څۀ لږ ډېر ښاروال) ذریعي (څۀ خانه بدوش) څۀ پُرامنه او څۀ تشدد امېزه، څۀ دقیانوسي او ښکته کتونکې ټولنې دغه جمود او جوړښت د نوري اسیاء د هېوادونو غوندې لوئے نړیوال جنګ مات کړو. د دې اثرات په ټوله



عبدالاکبر خان اکبر عمر زئی (چارسده) پشاور

پښتونخوا ډېر ژور وو، ځکه چې د اولنۍ نړۍ والې جګړې سره په هند کښې نوے سیاسي شعور او خوداعتمادي راپېدا شوه او د دغه جنګ برکت ؤ چې په برطانوي هند کښې د ۱۹۱۹ء اصلاحات نافذ کړے شو خو زمونږ صوبه له دغو اصلاحاتو

محرومه پاتې شوه. اپرېل ۱۹۱۹ء کښې جلیانوالـه باغ (امرتسر) حادثـه کښې ۳۹۷ خلق مړۀ او ۱۲۰۸ زخمیان شول او نتیجه ئې د رولټ ایکټ په شکل کښې ظاهره شوه.

له دې علاوه د هند مسلمانانو عثمانیه خلافت د بچ کولو د پاره هلې ځلې شروع کړې او نتیجه ئې د خلافت تحریک او اخر کښې په ۱۹۲۰ء کښې افغانستان ته د هجرت په شکل کښې رامخ ته شوه.

د تش په نوم ډیورنډ کرښې هغه خوا تـه امیر حبیب الله خان ووژلے شو او د هغۀ په ځائے د هغۀ زوے غازي امان الله خان په تخت کښېناست. امان الله خان د برطانوي هند په ضد د استقلال یا ازادۍ جنګ اعلان کړو او اخر ئې استقلال یا ازادي تر لاسه کړه. د استقلال نه پس ئې د اصلاحاتو اعلان پېل کړو او د دغه اصلاحاتو اثرات په مرکزي اسیاء، هند او ټولې پښتونخوا پرېوتل. عبدالاکبر خان اکبر په داسې حالاتو کښې خپل انقلابي او ادبي مرام حاصلولو د پاره هلې ځلې شروع کړې.

عبدالاکبر خان اکبر په ۱۸۹۹ء کښې عمرزو (چارسده) کښې د یو مالدار زمیندار عبدالقادر خان په کور کښې پېدا شو. په خټه مامدزے ؤ، د دۀ نیکۀ د سخاوت په وجه په خپله علاقه کښې د سخي ارسلاخان په نوم یادېدو. د عبدالاکبر خان پلار به "پېسه" نومي اخبار ډېر په شوق لوستو او د پلار د مطالعې دې شوق په ماشوم زوي هم اثر وکړو او د هغۀ هم لیک لوست سره مینه پېدا شوه. د تعلیم ابتداء ئې د خپل کلي د سکول نه وکړه او د هغې نه پس په اسلامیه سکول پېښور کښې په ۱۹۰۶ء کښې داخل شو. د سکول هېډ ماسټر تاج محمد خان بي اې او مولوي عبدالله تنها هزاروي عبدالاکبر خان د حاجي صاحب ترنګزي او باچا خان د تحریکونو سره تړون ته اماده کړو. سکول کښې عبدالاکبر خان د عثمانیې ترکې د هغه وخت قهرمانانو لکه انور پاشا، جمال پاشا، مصطفیٰ کمال پاشا او عظمت پاشا نه هم ډېر متاثره ؤ او دوي خلقو تصویرونه د پېښور په بازارونو، حجرو او دکانونو کښې هم لګېدلي وو.

عبدالاکبر خان لسم جماعت په ۱۹۱۶ء کښې د اسلامیه کالجېټ پېښور نه پاس کړو او په هم دغه اسلامیه کالج پېښور کښې داخل شو. په کال ۱۹۱۷ء کښې په روس کښې سوشلسټ (بالوشویک) انقلاب راغے، جرمني په جنګ کښې ماتې وخوړه او عثمانیه سلطنت دړې وړې شو او هم په دغه کال د عبدالاکبر خان پلار هم وفات شو.

د پلار مرګ او بین المللي واقعاتو په ځوان عبدالاکبرخان ډېر اثر وغورځولو. دۀ به د خپلو دوو رومېټانو عبدالرحمان (سوات) او محمد غفران سره په ګډه د الهلال، کامرېډ، امریتا، بازار او پتریکا نومي اخبارونو مطالعه کوله. یو بنګالي پروفېسر مسټر ډے هم دوي کښې انقلابي جذبات راپارول او دوي ته ئې ووې چې خپله پښتو ژبه کښې څۀ مجله شروع کړئ.

دوي په ۱۹۱۹ء کښې "ورځ" نومي مجله شروع کړه. دې بنګالي پروفېسر دوي ته دا هم ووې چې مونږ بنګالیانو ته وګورئ چې مونږ بنګالۍ او انګرېزۍ کښې خبرې کوو خو ستاسو پښتنو خپلې ژبې سره مینه نشته. د پروفېسر صاحب خبره رښتیا ده خو پښتنو کښې د تعلیم ډېر کمے ؤ، بلکې په نشت حساب ؤ او د صوبې افسران، کلرکان او استاذان به د پنجاب نه راتلل. دغه وختونو کښې د

اسلامیه کالج طالب علمانو د انګرېز سرکار په ضد هړتال شروع کړو. عبدالاکبر خان اکبر او د دوي ملګرو د پرنسپل نه د کالج بندولو مطالبه وکړه خو پرنسپل ورباندې جرمانه ولګوله. عبدالاکبرخان دې ته ذهني طور د مخکښې نه تیار ؤ نو د دې واقعې نه وروستو هغه جامعه ملیه علي ګړ ته لاړو چې څۀ ملګري ئې له وړاندې نه هلته تللي وو. جامعه ملیه دې نه پس د علي ګړ نه دهلي ته راغله. دهلي کښې عبدالاکبر خان ته دا موقع په لاس ورغله چې د هغۀ د هند د خلافتي لیډرانو او نورو آزادي خواهانو سره لیدنه کتنه وشوه. جامعه ملیه نه چې فارغ شو بېرته کلي ته راغلو.

په ۱۹۲۰ء کښې چې کله د هند علماؤ برطانوي هند دارالحرب (جنګ کور) وګرځولو او افغانستان ته د هجرت فتویٰ ئې ورکړه نو تقریباً اویا زره خلق چې ډېر پکښې پښتانۀ وو افغانستان ته ئې هجرت وکړو. عبدالاکبر خان اکبر هم د باچا خان په ډله کښې کابل ته لاړو او د زړۀ نه ئې هلته د مهاجرینو خدمت کولو او باچا خان سره یو ځائې شور بازار کښې مېشته وۀ. دې ډله کښې بیا ارباب رضا خان د تهکال پېښور او محمد اکبر خان د باریکاب هم شامل شول. کابل کښې دوي د مولانا عبیدالله سندهي، مولوي عبدالحق ملتاني، ډاکټر عبدالغني، اقبال شېدائی او دا شان نورو هندي انقلابیانو سره بحثونه او لیدۀ کاتۀ وکړۀ چې کله اکثریت هندي مهاجرینو د واپسۍ فېصله وکړه نو عبدالاکبر خان اکبر د خپلو نورو ملګرو سره روس ترکستان او بیا ترکیې ته د تګ فېصله وکړه. دا ټول کسان تقریباً درې سوه جوړېدل. ډاکټر هیري اوارا د هندوستان مشهور صحافي دوي ته د ترکستان سفری کاغذونه برابر کړل او دوي په پنځم اګست ۱۹۲۰ء د امو دریاب طرفته روان شول. عبدالاکبر خان خپله دا سفرنامه د افغانستان او روسي ترکستان سفرنامې په نوم پښتو ژبه کښې ولیکله چې اردو کښې هم ترجمه شوه. د موجوده ازبکستان ښار تاشقند کښې عبدالاکبر خان مشهور کمیونسټ لیډر ایم این رائې اچاریه، مولوي سلېمان، عمربخت پشاوري، سېد امیر باچا د موسیٰ زی، پېښور او عبدالرب برق پشاوري سره تعلق جوړ شو. خپل شپږ میاشتې وخت چې دوي هلته تېر کړو دا هر څۀ ئې دغه سفرنامه کښې لیکلي دي. دې نه علاوه میا اکبرشاه د بدرشو هم خپله سفرنامه "د آزادۍ تلاش" کښې د هندي انقلابیانو او مهاجرو خپل مینځ کښې رقابتونه او نورې ډېرې خبرې تفصیل سره بیان کړې دي.

عبدالاکبر خان چې دا شان بې اتفاقي ولیده نو زړۀ ئې مات شو او واپس ئې وطن ته د راتلو اراده وکړه. تاشقند کښې افغان سفیر عبدالهادي خان دۀ سره د واپس سفري دستاویزاتو جوړولو کښې مرسته وکړه او دے واپس کابل ته راغے. کابل کښې څۀ وخت جمال پاشا سره مترجم مقرر شو، دې سره سره ئې حبیبیه لېسه کښې د استاذ په توګه هم کار شروع کړو. په کابل کښې دۀ عبدالرحمان پشاوري (افغانستان کښې د ترکیې اولنے سفیر) سره هم ولیدل. دلته د یادګېرنې وړ ده چې عبدالرحمان پشاوري د یونس خان (چې هند کښې وفات شو) او یحیٰي جان خان (چې د ډاکټر خان صاحب په کابینه کښې وزیر ؤ) ورور وۀ چې دواړه خدائي خدمتګار وو. په کابل کښې څۀ موده وروستو د انګرېزانو

جاسوسانو د نیولو په وجه د هندي مهاجرینو او افغان چارواکو په منځ کښې ځۀ بدګماني پېدا شوه. عبدالاکبر خان اکبر د محمد اسلم سنجري او د ارباب رضا خان په مشوره په قبائلي علاقو کښې د خپل تحریک شروع کولو اراده وکړه. دوي مخفي صاحب سره د ازاد سکولونو او مدرسو پرانستلو باندې هم بحث وکړو. عبدالاکبر خان دا خبره جمال پاشا سره هم وکړه او هغۀ هم د سکولونو جوړولو خبره تائید کړه او دا ئې هم ورته ووې چې د افغان حکومت فرائضو کښې شامل دي چې قبائلي سیمو کښې سکولونه پرانځي ځکه چې دوي دې خلقو سره قامي او مذهبي یووالے لري. جمال پاشا دا خبره غازي امان الله خان سره هم وکړه، هغۀ هم دا خبره ډېره خوښه کړه چې باید افغان حکومت دې کار کښې ورسره کمک وکړي خو دغه وخت کښې جمال پاشا وفات شو او عبېدالله سندهي عبدالاکبر خان اکبر ته مومند ایجنسۍ کښې د ازاد سکولونو جوړولو مشوره ورکړه. عبدالاکبر خان خپل کلي ته واپس په ۱۹۲۱ء کښې راغے او باچا خان سره ئې په ګډه د سکولونو پرانستو ته دوام ورکړو. اپرېل ۱۹۲۱ء کښې عبدالاکبر خان اکبر باچا خان په څلوېښتمه ایف سي ار دفعه کښې ګرفتار شو خو څۀ موده پس پرېښودلے شو. په ۱۹۳۰ء کښې د انجمن اصلاح افاغنه جنرل سکتر جوړ شو. دې موده کښې دۀ د لاهور یوې رسالې سیاست ته لیکل هم شروع کړۀ.

## ادبي خدمات او وفات:

د عبدالاکبر خان اکبر په ادبي خدماتو کښې لاندیني کارونه د یادولو جوګه دي.

ډرامې:

۱: تهذیب، جدید او تعلیم جدید: ۱۹۲۷ء
۲: درې یتیمان: ۱۹۲۸ء
۳: خدائي خدمتګار: ۱۹۳۰ء
۴: جونګړه: ۱۹۴۵ء
۵: کاروان روان دے: ۱۹۵۷ء
۶: د برصغیر پاک و هند په ازادۍ کښې د پښتنو برخه: اګست ۲۰۰۹ء
۷: زما ژوند سره تړلی حالات: ۲۰۰۹ء

ترجمې:

۱: د هندوستان قبائلي سرحد
۲: د مولانا روم مثنوي

سفرنامه:

۱: د روسي ترکستان او افغانستان سفر

نور کتابونه:

۱: زمونږ نبی محمد (ص) عربی: ۱۹۴۹ء
۲: رونبانیان د مغلو تاریکیان: ۱۹۶۸ء
۳: ادبي پنګه: ۱۹۶۷ء
۴: خوارۀ تراخۀ: ۱۹۵۸ء
۵: مثنوي اسلام او مسلمانان، سرحدات:

او نورې ډېرې مقالې چې وخت په وخت په مختلفو اخبارونو او مجلو کښې چاپ شوې دي.

لکه پښتون، لار، غنچه، اباسین، رهبر، اسلم، دوران، نن پرون، ګلستان، جمهوریت او پښتو.

عبدالاکبر خان اکبر په اکتوبر ۱۹۷۷ء کښې د اتۀ اویا (۷۸) کالو په عمر کښې وفات شو او پنځۀ زامن رشید خان، اوبس خان مرحوم شېرشاه، فرهاد خان او ډاکټر مجاهد اکبر ترې پاتې شو.